ليکوال: هانري باربوس
ژباړن: احسان‌الله ارينزى

۲۰۲۶/۰۳/۱۲

# ښوونکی

## (لنډه کيسه)

هوا توده ده. ډله - ډله مچان الوزي او د وز__وز غږونه يې اوریدل کیږي. لارويان روان دي او هڅه کوي چيې د ديوالونو له سيورو څخه ليرې نه شي. موږ د (سنتاندر) ولايت د ( کاوادا) کلي په منځنى برخه کې ولاړ ياستو. داسي اوار ځايونه د اسپانيا په نورو کليو کې هم شته. پخوا چي خلکو خپلي ملي جامي اغوستي، دا ځاى ډېر ښکلی او په زړه پورې ښکارېده. اوس هم د اسپانيا د غرونو بربنډو څوکو او غنم رنګه خلکو خپله ښکلا له لاسه نه ده ورکړې او ښايسته ځلا لري.

د مچانو په وز__وز سربيره، د ډبرينو ديوالونو له شا څخه نور تت غږونه هم اوریدل کیږي. هلته ښوونځی دی. دي ښوونځي د نړۍ له نورو ښوونځيو سره هيڅ توپير نه درلود. تياره خپه کوونکي ديوالونه، يو شان څوکۍ او کوچني - کوچني سرونه. د خوني پــــه مينځ کې هـــم يو څوک ولاړ دى، چي په هـــغـــه چــــاپيريال کې د يــــو ډېــــو پــــــه شان ښکاري. دى ښوونکی دى.

دى هم بايد د خپلو نورو ملګرو په شان څومره صبر، حوصله او د نوښت وس ولري چي په دې ديرشو کوچنيو سرونو چاپير شي او په هغو کې د واقعيتونو او حقيقتونو له ستر سمندر څخه څو ځاڅکي وڅڅوي.د (کاوادا) کلي ښوونکی چي (بالدومه سورى) نومېده، ډېر ساده، زړه سواندى او پوه سړى و. ټولو به د ده په ستاينه کي ويل چي مهربانه او په کار مين سړى دى. د کلي په اوسېدونکيو کي، د ده وخت پيژندني او وفا د يوه متل بڼه غوره کړې وه. که به کومه ورځ لږ ناوخته شو، ټولو به فکر کاوه چي ګړى سم کار نه کوي.

د (بالدومه سوري) اندډود هم د ده ژوند په شان منظم او سپيڅلى و. له همدې امله ځينو کسانو د ده اندونه او په تېره بيا د ټولنيزو چارو په هکله، د ده عقيدې ته په بده سترګه کتل او ويل به يې چي: ( ډېر سور سړى دى!!). خو حتى همدې کسانو هم، د خپل خوار او ذليل زړه په تل کې، د دې (سره) انسان په شرافت او ريښتينولۍ باور درلود او ښوونکي ته يې له درناوي څخه سر نه شواى غړولى.

په (کاوادا) کي دوو کسانو په دې برخه کې ځانګړې عقيده درلوده. مشر کشيش او کشر کشيش چي دواړو توري جامي اغوستي. له ښوونکي سره د دوى کينه ورځ په ورځ ډېرېده؛ ځکه چي د ټولني د خپلواکی او سوکالی په برخه کې، له (شيطاني؟!) اندونو پرته ښوونکي هيڅ وخت داسي کار نه کاوه، چي څوک دې ګوته ورته ونيسي.

ښوونځی به تل د مشر او کشر تر ځار لاندې و؛ ځکه ښوونځی هغه فابريکه ده چي د وده کوونکی نسل افکار او روحيات جوړوي. له همدې امله هغه هوښياران چي غواړي راتلونکی ترلاسه کړي، ښوونځيو ته ډير پام ساتي.

څه موده مخکي د (فرانسيسکو) په نامه يوه سړي، هڅه وکړه چي د اسپانيا ښوونځي د کليسا او تورکاليو له وژونکي ځارني څخه وژغوري؛ خو په دار وځړول شو او مخکي له دې چي ووايي: (ژوندي دې وي ښوونځي!) په ګولو غلبيل شو.

د اسپانيا روحانيونو له دې ستري بريا وروسته، د ښوونځيو چاڼ پيل کړ. د ټولي اسپانيا اشرافي کورنيو او خونړی دکتاتوري د دوى شا ته ولاړ وو .

( هر ځاى چي د چارو واګې د پوځيانو په لاس کې وي، روحانيون واك چلوي). له همدې امله تاسو له داسي يوه هيواد سره مخامخ ياستئ، چي خلك يې ورو__ ورو د عقايدو د څيرني ( انکزيسيون) په لور روان دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

کشیش او کشر له پاك او خپلواك ښوونکي سره کلکه دښمني درلوده. دا ځکه چي ښوونکی په خپلو کړو وړو او نیکو اخلاقو، په ټولو خلکو ګران او له همدې امله د کشیشانو له پاره خطرناك و؛ خو له بده مرغه د ښوونکي په خبرو او کړو وړو کي داسي څه نه موندل کیدل، چي کشیش کفر بللی او ځان یې د دې (دښنه) له شر څخه خلاص کړی وای.

له غمونو څخه په ډکه اسپانیا کي کشیشان واك لري، چي ښوونځي له نژدې وګوري او درسي مواد سم وڅیړي.

په هغه ورځ، چي زه یې کیسه کوم، د درس په بهیر کي د خوني ور خلاص شو. دوه تورکالي راغلل او کرار کیناستل.

ښوونکی له یوه کوچني څخه پوښتنیي کولې.

زده کوونکي کتاب سم نه و لوستی. له راغلو تورکالیو څخه هم بیریدلی و؛ ځکه یي ژبه بنده- بنده کیده:

- عدالت... برابري....

کشیش له ډیرې غوسي وغورید او د ماشوم په لور یې ټوپ کړ:

- څه بد دې وکړل... بیا ووایه!...

کوچنی له ډیرې ویرې اریان ودرید؛ خو د ټولګي یو بل څوارلس- پنځلس کلن زده کوونکی، په دې تمه چي کتاب یې سم لوستی، ودرید او ویې ویل:

- کشیش صیب، ټول خلك سره یو شان او برابر دي.

کشیش د دې زده کوونکي په لور ورغی او چیغیي یې کړې:

- دا خبره غلطه ده، درواغ ده. د کلیسا له ښوونو سره توپیر لري! کله چا ویلي چي ټول خلك یو شان دي؟! زمونږ مشرانو هم نه دي ویلي چي ټول خلك برابر دي، نه ، نه.... هیڅکله!

د کشیش رنګ له ډیرې غوسي سور اوښتی او په شونډو سپین ځګ دریدلي و.

ښوونکی ورو؛ خو په ډیر غرور ورنژدې شو او ویې ویل:

- کشیشه.... اجازه راکړه...

کشیش په لوړه ورته وویل:

- د څه شي اجازه درکړم؟ اجازه درکړم چي بیا هم هلکانو ته مزخرفات زده کړې؟ ټول خلك یو شان دي! دا خبره کلیسا نه شي منلای! هلکانو زما خبرو ته غوږ ونیسئ. ستاسو ښوونکی درواغ وایي!

ښوونکي په ډیر متانت وویل:

- غلی شه!

خو کشیش تر پخوا هم په لوړ غږ وویل:

- ته درواغ وایې! ته دیانت او سپیڅلي کلیسا ته په سپکه سترګه ګوري. عدالت! ... عدالت! مسیحیان عدالت څه کوي؟ دا خبرې په دوی پورې اړه نه لري. زه فقط یو عدالت پیژنم چي هغه په الهی محکمه کي عملي کیږي. مسیحیان باید په دین، ایمان او محبت پوه کړی شي.

کشیش د بیریدلو زده کوونکو په مخ کي د (محبت) کلمه په ډیره دښمنۍ ښوونکي ته ګذار کړه. ښوونکی دوه- درې ګامه په شا لاړ او رنګ یې سپین شو. ورو یې کشیش ته وکتل. د ښوونکي د سترګو په سمندر کي د غم، کیني او دښمنۍ څپې تلې راتلې... هلکان ټول پاڅیدل. ښوونکي فکر وکړ چي پای ته رسیدلی او ورو یې وویل:

- شیطانه؟

کشر کشیش په ښوونکي ټوپ کړ. کشیش هم خپل سوك پورته کړ؛ خو کشري ښوونکی سم نه و نیولی، د تومانچې دوه ډزې واوریدل شوې او کشیش په ځمکه پریوت. له لږ ځنډه وروسته کشری هم په ځمکه ولوید.

ښوونکی چي نور نو په ښه او بد نه پوهیده، بیا ماشه کش کړه او د دوی دواړو څنګ ته وغورځېد.

او په دې توګه په کال 1926 کي په یوه پرمختللي هیواد کي، داسي یو ښوونکی مړ شو، چي په ډیر جرئت یې هلکانو ته د عدالت په هکله خبرې کړې وې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ